دافغانستان اسلامي جمهوریت
دعدلیې وزارت

رسمي جریده

فوق العاده ګڼه

# دسوداګریزونښو(علامو) دثبت قانون

# قانون ثبت علایم تجارتی

دخپرېدونېټه:د۱۳۸۸هـ.ش کال د وږي دمیاشتې(۱۰)
پرله پسې نمبر:(۹۹۵)

تاریخ نشـــر: (۱۰) سنبله سال ۱۳۸۸ هـــ . ش
نمبر مسلسل: (۹۹۵)

| | |
|---|---|
| د امتیـــاز خاوند: | دعدلیـــي وزارت |
| مسئول چلوونکی: | حیدر "محقق" |
| | ۰۷۰۰۰۸۸۱۲۸ |
| د دفتر تیلفون: | ۲۱۰۳۳۷۵ |
| مرستیال:نورعلم | ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸ |
| مهتمم محمدجان | ۰۷۰۰۳۹۵۲۹۲ |
| وب سایت: | www.moj.gov.af |

قیمت این شماره: (۴۰) افغانی

تیراژ چاپ اول: (۵۰۰۰) جلد

آدرس:وزارت عدلیه، ریاست نشرات‌وارتباطعامه، چهارراهی پشتونستان کابل

## د سوداګريزو علامو د ثبت د قانون د توشېح په هکله، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس فــرمان

ګڼه: (۱۱۱)
نېټه:۵/ ٦ /۱۳۸۸

لومړۍ ماده:
د افغانستان د اساسي قانون د (٦۴) مــادې د (۱٦) فقــرې د حکــم له مخې دسوداګريزو علامو د ثبت قانون چې د ملي شوري د ولــسي جرګـــې د ۱۳۸۸/۲/۲۱ نېټـــې (۱۳۸) ګڼې اود مشرانو جرګې د ۱۳۸۸/۳/۱۰ نېټې (۱۲۲) ګڼـــې مصوبو په واسطه په (۵) فصلونو او (۳٦) مادو کې تصويب شوی دی، توشېح کوم.

---

## فــرمان رئيس جمهوری اسلامی افغانستان درمورد توشيح قانون ثبت علايم تجارتی

شماره:( ۱۱۱)
تاريخ:۱۳۸۸/٦/۵

مادۀ اول:
به تأسی از حکم فقرۀ (۱٦) مــادۀ (٦۴) قانون اساسی افغانستان، قانون ثبت علايم تجارتی را کــه توســط مصوبات شــماره (۱۳۸) مــؤرخ ۱۳۸۸/۲/۲۱ ولــسی جرگـــه و (۱۲۲) مــــؤرخ ۱۳۸۸/۳/۱۰ مــشرانو جرگـــۀ شـــورای ملـــی بــــداخل (۵) فــــصل و (۳٦) ماده تــصويب گرديــده اســت، توشيح می دارم.

**دوه یمه ماده:**

دغه فرمان د توشیح له نېټې څخه نافذ او د ملي شوري د مجلسینو له مصوبو سره یوځای دې په رسمي جریده کې خپور شي.

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت رئیس**

**مادۀ دوم:**

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با مصوبات مجلسین شورای ملی در جریدۀ رسمی نشر گردد.

**حامد کرزی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

ولسي جرګه

مصوبه

د سوداګريزو نښو (علامو)

د ثبت قانون

پرله پسې ګڼه: (۱۳۸)

د تصويب نېټه: ۱۳۸۸/۲/۲۱

ولسي جرګې، د افغانستان د اساسي قانون د اووه نوي يمې مادې د حکم پربنسټ، د سوداګريزو، نښو د ثبت قانون د ۱۳۸۸ کال د غويي د مياشتې په ۲۱ نېټه د چهارشنبې ورځې په عمومي غونډه کې په پنځو فصلونو او (۳٦) مادو کې تصويب کړ.

محمد يونس قانوني

د ولسي جرګې رئيس

ولسی جرگه

مصوبه

قانون ثبت علایم تجارتی

شماره مسلسل: (۱۳۸)

تاریخ تصویب: ۱۳۸۸/۲/۲۱

به تأسی از حکم مادهٔ نود وهفتم قانون اساسی افغانستان، ولسی جرگه در جلسهٔ عمومی روز چهارشنبه مؤرخ ۱۳۸۸/۲/۲۱ قانون ثبت علایم تجارتی را به داخل پنج فصل و (۳٦) ماده به تصویب رسانید.

محمد یونس قانونی

رئیس ولسی جرگه

**د افغانستان د اسلامي جمهوريت**

**ملي شوري**

**مشرانو جرگه**

**دارالانشاء**

**د مشرانو جرگې مصوبه**

**د سوداگريزو نښو (علامو)**

**د ثبت قانون**

گڼه: (۱۲۲)

نېټه: ۱۳۸۸/۳/۱۰

مشرانو جرگې د افغانستان د اساسي قانون د اووه نوي يمې مادې له حکم سره سم، د ۱۳۸۸ لمريز کال د غبرگولي د مياشتې د لسمې نېټې په عمومي غونډه کې د سوداگريزو نښو (علامو) د ثبت قانون په (۵) فصلونو او (۳٦) مادو کې تصويب کړ.

**سيد حامد گيلاني**

**د مشرانو جرگې لومړی نايب**

**شورای ملی جمهوری**

**اسلامی افغانستان**

**مشرانو جرگه**

**دارالانشاء**

**مصوبهٔ مشرانو جرگه**

**درمورد قانون ثبت**

**علایم تجارتی**

شماره: (۱۲۲)

تاریخ: ۱۳۸۸/۳/۱۰

به تأسی از حکم مادهٔ نود وهفتم قانون اساسی افغانستان، قانون ثبت علایم تجارتی در جلسهٔ عمومی مؤرخ ۱۳۸۸/۳/۱۰ مشرانو جرگه در (۵) فصل و (۳٦) ماده به تصویب رسید.

**سید حامد گیلانی**

**نایب اول مشرانو جرگه**

# فهرست مندرجات

## قانون ثبت علایم تجارتی

## فصل اول

## احکام عمومی

| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی | ۱ |
| مادۀ دوم: | هدف | ۱ |
| مادۀ سوم: | اصطلاحات | ۲ |
| مادۀ چهارم: | انواع علایم تجارتی | ۳ |
| مادۀ پنجم : | استعمال علایم | ۴ |
| مادۀ ششم: | درخواست ثبت علایم تجارتی | ۴ |
| مادۀ هفتم: | تطبیق مفاد قانون | ۵ |
| مادۀ هشتم: | منع استعمال یا ثبت | ۵ |
| | **فصل دوم** | |
| | **مالکیت و ثبت علایم تجارتی** | |
| مادۀ نهم: | امتیاز علامت مشهور | ۸ |

مادۀ دهم: ثبت ............................................۹

مادۀ یازدهم: قبول یا رد درخواست........................۱۰

مادۀ دوازدهم: درخواست ثبت................................۱۲

مادۀ سیزدهم: ثبت تغییرات....................................۱۴

مادۀ چهاردهم: تصــحیح اشتبــاه درچــاپ عــلامت تــجارتی ثبت شده ........................................۱۵

مادۀ پانزدهم: عدم ثبت علامت بنام وکیل..................۱٦

مادۀ شانزدهم: استفاده از اسم و آدرس مالک علامت تجارتی..۱٦

مادۀ هفدهم : انتقال علامت تجارتی..........................۱۷

مادۀ هجدهم : نشر علامت تجارتی ثبت شده................۱۷

مادۀ نزدهم : حمایت علامت....................................۱۹

مادۀ بیستم: مدت اعتبار ثبت علامت تجارتی...............۲۰

مادۀ بیست ویکم: مالکیت علامت تجارتی......................۲۱

مادۀ بیست ودوم: ختم مالکیت علامت تجارتی................۲۱

مادۀ بیست وسوم: تولید یا عرضه در ساحۀ جغرافیائی مشهور......۲۳

مادۀ بیست وچهارم: استفاده از نام های مشهور.....................۲۴

## فصل سوم

## اعتراضات

مادۀ بیست وپنجم : حق اعتراض....................................۲۵

مادۀ بیست وششم: طرز اعتراض.....................................۲۵

مادهٔ بیست و هفتم: طرز اعتراض در مورد انتقال یا تغییـــر عـــلامـــت تجارتی .......................................۲۷
مادهٔ بیست و هشتم: تصمیم محکمه...................................۲۸
مادهٔ بیست و نهم: استعمال علامت تجارتی.........................۲۸
مادهٔ سی ام: مدت مروز زمان دعوی.........................۲۹

## فصل چهارم

## مجازات

مادهٔ سی ویکم: تخلفات..........................................۳۰
مادهٔ سی ودوم : مطالبهٔ جبران خساره............................۳۲
مادهٔ سی وسوم: مصادرهٔ اجناس و مسدود نمودن محل فعالیت...۳۳

## فصل پنجم

## احکام متفرقه

مادهٔ سی وچهارم : حق الثبت........................................۳۳
مادهٔ سی وپنجم : وضع مقرره ها...................................۳۴
مادهٔ سی وششم : تاریخ انفاذ........................................۳۴

بسم الله الرحمن الرحيم

## دسوداگریزونښو(علامو)دثبت

## قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبنیٰ**

**لومړۍ ماده :**

دغه قانون د اساسي قانون د یوولسمې مادې د حکم په رڼا کې وضع شوی دی.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

ددې قانون موخې عبارت دي له:

۱- د سوداگریزو نښو په ثبت پورې د اړوندو چارو تنظیمول.

۲- د (اجناسو، تولیداتو یا صنعتي سوداگریزو، مخابراتي او کرنیزو خدمتونو) د تشخیص او تفکیک په

## قانون

## ثبت علایم تجارتی

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنیٰ**

**مادۀ اول:**

این قانون در روشنی حکم مندرج مادۀ یازدهم قانون اساسی افغانستان وضع گردیده است.

**هدف**

**مادۀ دوم:**

اهداف این قانون عبارت از:

۱- تنظیم امور مربوط به ثبت علایم تجارتی.

۲ - استعمال علایم تجارتی غرض تشخیص و تفکیک (اجناس، تولیدات یا خدمات

غرض، د سوداګريزو نښنو استعمالول.

**اصطلاحګانې**

**درېيمه ماده:**

په دغه قانون کې لاندې اصطلاحګانې د لاندې مفاهيمو درلودونکي دي:

۱- سوداګريزه نښه: هغه نښه يا د نښنو ترکيب دی چې وکولای شي کالي يا خدمتونه له نورو کاليو يا خدمتونو سره توپير کړي.

۲- مشهوره نښه: هغه نښه ده چې له دوو هېوادونو څخه په زياتو يا په نړيواله سطحه دود وي.

۳- د ثبت حق: د پيسو هغه ټاکلې اندازه ده چې د سوداګريزې نښې د مالک له خوا د هغې د ثبت له بابته په مرکزي دفتر کې (د سوداګريزو نښنو د ثبت برخه کې) د دولت په حساب ورکول کېږي.

۴- د سوداګريزو نښنو لېږد: هغه

صنعتی تجارتی، مخابراتی و زراعتی)

**اصطلاحات**

**مادۀ سوم:**

اصطلاحات آتی در این قانون مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

۱- علامت تجارتی: علامت یا ترکیبی از علایمی است که بتواند کالاها یا خدمات را از کالاها یا خدمات دیگر متمایز گرداند.

۲- علامت مشهور: علامتی است که در بیش از دو کشور یا در سطح بین المللی متداول باشد.

۳- حق الثبت: مقدار معین پولی است که از طرف مالک علامت تجارتی از بابت ثبت آن در دفتر ثبت مرکزی (بخش ثبت علایم تجارتی) به حساب دولت پرداخته می شود.

۴- انتقال علامت تجارتی: عملی

عمل دی چې پرموجب یې د سوداګریزې نښې ملکیت له یوه شخص څخه بل شخص ته لېږدول کېږي اوخرڅلاو، هبه، ارث او نور پکې شاملېږي.

۵- د سوداګریزو نښو مالک: هغه شخص دی چې سوداګریزه نښه په قانوني بڼه (ثبت، خرڅلاو، هبه، ارث او نور) هغه ته انتقال شي او په مالکانه تصرفاتو کې یې قانوني مانع وجود ونه لري.

٦- د سوداګریزو نښو استعمال: هغه ګټه اخیستنه ده، چې یوائې د سوداګریزې نښې د مالک له خوا، په انحصاري بڼه صورت مومي.

## د سوداګریزو علامو ډولونه

**څلورمه ماده:**

( یو یا له یوۀ څخه زیات) نومونه، کلیمه، لاسلیک، توری، شکل، نقشه، عنوان، مهر، انځور، لیکنه،

است که به موجب آن ملکیت علامت تجارتی از یک شخص به شخص دیگر انتقال گردیده و شامل فروش، هبه، ارث وغیره می باشد.

۵- مالک علایم تجارتی: شخصی است که علامت تجارتی به شکل قانونی (ثبت، فروش، هبه، ارث وغیره) به او انتقال گردیده و در تصرفات مالکانه او مانع قانونی موجود نباشد.

٦- استعمال علامت تجارتی: استفادۀ است که صرف از طرف مالک علامت تجارتی، به شکل انحصاری صورت می گیرد.

## انواع علایم تجارتی

**مادۀ چهارم:**

علایم تجارتی شامل (یک یا بیشتر از یک) اسم، کلمه، امضاء، حرف، شکل، نقشه، عنوان، مهر،

اعلان، نمونه یا پــه هغــو پــورې اړوندې نورې علامې او ترکیبونــه په سوداګریزو علامو کې شــامل دي.

## د علامو استعمال

**پنځمه ماده:**

ددې قانون په څلورمه ماده کــې د درج شــــــو ســــــوداګریزو علامواستعمال اختیاري دی، خو دا چې دسوداګرۍ او صنایعو وزارت یــا د مرکــزي ثبــت دفتــر ( د سوداګریزو علامو د ثبت برخه)،د هغو استعمال اجباري کړي.

## د سوداګریزو علامو د ثبــت غوښتنلیک

**شپږمه ماده :**

هغه شخص چې په خپــل تولیــد، جوړونې او ټاکلو کــې دشــاملو اجناسو یاهغو جنسونو چې دهغو په هکله یې تصدیق ترلاسه کړی یاهغو

تــــصویر، نوشـــته، اعـــلان، نمونـــه یـــا ســـایر علایمـــی یـــا ترکیبـــات مربـــوط بـــه آنهـــا می باشد.

## استعمال علایم

**مادۀ پنجم:**

استعمال علایم تجــارتی منــدرج مادۀ چهارم این قــانون اختیــاری می باشــد، مگــر اینکــه وزارت تجارت و صنایع یا دفتــر ثبــت مرکزی (بخش ثبت علایم تجارتی) اســـــتعمال آنـــــرا اجبـــــاری نماید.

## درخواســـت ثبـــت علایـــم تجارتی

**مادۀ ششم:**

شخصی که به منظــور تفکیــک وتشخیص اجناس شــامل تولیــد، ساخت و انتخاب خود یا اجناسی که در مــورد آن تــصدیقنامه را

جنسونو چې پکې دسوداگرۍ نیت لري، دتشخیص اوتفکیک په منظور، دسوداگریزو علامو د انحصاري استعمال غوښتونکی وي، کولی شي د دغۀ شان سوداگریز علامت ثبت، ددې قانون دحکمونو مطابق وغواړي.

## دقانون دمفاد تطبیق

**اوومه ماده :**

په افغانستان کې دسوداگریزو، صنعتي، مخابراتي، کرنیزو، شغلي یا خدماتي مؤسسوکورني یابهرني مالکان، په هغۀ صورت کې ددې قانون له مفاد څخه استفاده کولی شي چې خپلې سوداگریزې علامې یې ددې قانون د حکمونو مطابق، ثبت کړې وي.

## د استعمال یا ثبت منع

**اتمه ماده :**

لاندې علامې دسوداگریزو علامو په

حاصل یا اجناس که در آن قصد تجارت را داشته، خواستار استعمال انحصاری علایم تجارتی باشد، می تواند ثبت چنین علامت تجارتی را مطابق احکام این قانون، درخواست نماید.

## تطبیق مفاد قانون

**مادۀ هفتم:**

مالکین مؤسسات تجارتی، صنعتی، مخابراتی، زراعتی، شغلی یا خدماتی در افغانستان، اعم از داخلی یاخارجی، در صورتی از مفاد این قانون استفاده کرده می توانند، که علایم تجارتی خویشرا مطابق احکام این قانون به ثبت رسانیده باشند.

## منع استعمال یا ثبت

**مادۀ هشتم:**

علایم ذیل بحیث علامات تجارتی

توکه استعمال یاثبتېدای نشي:

۱- ملي بيرغ، دولتي نښان او نور دولتي، د سازمانونو، کورنيو او نړيوالو يا بهرنيو هېوادونو نښانونه، خو داچې دهغو استعمال کتباً مجاز ګڼل شوی وي.

۲- محراب او منبريا هرډول هغه علامې چې له نښانونو يا کلاً دمذهبي ماهيت لرونکو علاماتو سره يوډول يا ورته وي.

۳- دملي مشرانو او لوړو دولتي مقاماتو انځورونه(تصويرونه).

۴- هغه کليمې او عبارتونه چې له هغو څخه د دولتي ادارو په نسبت اشتباه وشي.

۵- دسرې مياشتې (هلال احمر) ، سره صليب په څېر رسمي مؤسسو علامې يا نورې ورته علامې او له هغو څخه تقليد.

٦- هغه علامې چې دعفت،اخلاقو او عامه نظم منافي وي.

استعمال يا ثبت شده نمی تواند:

۱- بيرق ملی، نشان دولتی وساير نشان های دولتی،سازمان ها و مؤسسات داخلی و بين المللی، يا کشورهای خارجی، مگراينکه استعمال آن کتباً مجاز دانسته شده باشد.

۲- محراب و منبر يا هرگونه علاماتيکه بانشان ها يا علامات دارای ماهيت کاملاً مذهبی يکسان يا مشابه باشد.

۳- تصاوير زعمای ملی ومقامات عاليهٔ دولتی.

۴- کلمات و عباراتيکه از آن نسبت به ادارات دولتی ، اشتباه شده بتواند.

۵- علايمی مؤسسات رسمی مانند سره مياشت، (هلال احمر) صليب سرخ يا ساير علايم مشابه و تقليد از آنها.

٦- علايمی که منافی عفت ، اخلاق ونظم عامه باشد .

۷- هغه علامې چې په کيفيت يا خاصيت کې غيرمشخصې ياهغه نومونه پکې شامل وي چې معمولاً دعرف او سننو له لارې اجناسو ، محصولاتو يا خدمتونو ته ورکړې شوي وي يامانوسې رسامۍ او داجناسو، محصولاتو معمولي انځورونه ، دغه ډول علامتونه په عامه توګه استعمالېدی شي، خو دسوداګريزو علامتونو په توګه نشي استعمال کېدی، ثبت او د ملاتړ وګرځي.

۸- هغه جغرافيايي اشتهارونه چې استعمال يې د اجناسو ، محصولاتو يا خدمتونو دمنشاء يا سرچينې د مغشوشېدو باعث وګرځي.

۹- دثالث شخص نوم، دکورنۍ نوم، عکس يا نښان ، خوداچې دهغهٔ يا د ورثې موافقه يې په هکله دمخه اخيستل شوي وی.

۱۰- هغه علامې چې دخلکو د

۷- علایم که در کیفیت یا خاصیت غیر مشخص یا شامل اسامی باشند که معمولاً از طریق عرف و سنن به اجناس، محصولات یا خدمات داده شده باشد، یا رسامی های مانوس و تصاویر معمولی اجناس و محصولات، چنین علامات بطور عام استعمال شده می توانند، مگر بحیث علامات تجارتی نمی توانند استعمال، ثبت و مورد حمایت قرار گیرند.

۸- اشتهارات جغرافیایی که استعمال آن باعث مغشوش شدن منشاء یا منبع اجناس ، محصولات یا خدمات گردد.

۹- اسم، اسم خانوادگی، عکس یا نشان شخص ثالث، مگر اینکه موافقهٔ قبلی وی یا ورثه اش در مورد حاصل گردیده باشد.

۱۰- علایمی که سبب اغفال

اغفا ل(غولېدو) یا دمالونو، محصولاتویاخدمتونودمنشاء ، سرچينې يا نورو مشخصاتو په هکله دکاذبومعلوماتو سبب وګرځي.

۱۱- هغه علامې چې خيالي ، تقليدي يا جعلي سوداګريز نوم پکې شامل وي.

۱۲- هغه علامې چې په حقيقي ياحکمي اشخاصوپورې اړوندې وي اوپکارول يې منع شوي وي.

۱۳- دهغو کمپنيو علامې چې په افغانستان کې خپرې او ترويج شوې وي، خو د هغه د مالک په اجازه.

۱۴- په يوشان اجناسو يا خدمتونو پورې اړوندې يا د ورته والي لرونکي ثبت شوې سوداګريزې علامې يانښانونه وي.

۱۵- هغه علامې چې استعمال يې د خاصو مقصدونو لپاره تشخيص شي.

مردم گردد یا معلومات کاذب در مورد منشاء، منبع یا سایر مشخصات اموا ل، محصولات یا خدمات باشد.

۱۱- علایمی که شامل نام تجارتی خیالی، تقلیدی یا جعلی باشد.

۱۲- علایمی که متعلق به اشخاص حقیقی یا حکمی بوده وکاربرد آن ممنوع گردیده باشد.

۱۳- علایمی کمپنی های که در افغانستان انتشار و ترویج یافته است، مگر به اجازۀ مالک آن .

۱۴- علایم یا نشانهای تجارتی ثبت شدۀ مربوط به اجناس یا خدماتی یکسان یا دارای مشابهت باشد.

۱۵-علایمی که استعمال آن به مقاصد خاص تشخیص گردد.

## دوه یم فصل

## دسوداګریزو علامو مالکیت اوثبت

### دمشهور علامت امتیاز

**نهمه ماده :**

د مشهور علامت مالک کولی شي، پدې قانون کې له درج شوو حقوقو څخه برخمن شي، که څه هم چې نوموړی علامت په افغانستان کې هم ثبت شوی نه وي. دمرکزي ثبت دفتر(دسوداګریزو علامو برخه) مکلف دی د سوداګري علامت هرډول غوښتنلیک چې له نړیوا ل مشهورعلامت سره ورته وي، رد کړي، خوداچې غوښتنلیک ورکوونکی،دنړیوا ل مشهور علامت مالک یا دمالک استازی وي.

### ثبت

**لسمه ماده :**

حقیقي اوحکمي اشخاص شخصاً

## فصل دوم

## مالکیت وثبت علایم تجارتی

### امتیاز علامت مشهور

**مادۀ نهم:**

مالک علامت مشهور می تواند، از حقوق مندرج این قانون مستفید گردد ، گرچه علامت مذکور در افغانستان هم ثبت نگردیده باشد. دفتر ثبت مرکزی (بخش ثبت علایم تجارتی) مکلف است هرگونه درخواست علامت تجارتی را که مشابه به علامت مشهور بین المللی بوده، رد نماید، مگر اینکه درخواست دهنده، مالک یا نمایندۀ مالک علامت مشهور بین المللی باشد.

### ثبت

**مادۀ دهم:**

اشخاص حقیقی و حکمی شخصاً

یادخپل استازي یاقانوني وکیل له لارې کولی شي، دسوداګریز علامت دثبت لپاره مراجعه وکړي او غوښتنلیک ، وړاندې کړي.

دمرکزي ثبت دفتر (دسوداګریزو علامو برخه) مکلف دی د سوداګریزو علامو محتویات دثبت په کتاب کې درج او غوښتنلیک ورکوونکي ته رسید ورکړي یا ور واستوي.

که چېرې دسوداګریز علامت دثبت لپاره غوښتنلیک ، په بهرني هېوادکې چې دمتقابلو شرایطو پربنا له افغانستان سره د اړیکیو لرونکی وي ورکړل شوی وي، غوښتنلیک ورکوونکی یابې ذیحقه ورثه کولی شي دغوښتنلیک د وړاندې کولو له نېټې څخه وروسته د شپږو میاشتو مودې په ترڅ کې دعین سوداګریز علامت په اړه ورته غوښتنلیک چې په دمخني غوښتنلیک کې درج شوي

یا از طریق نماینده یا وکیل قانونی خود می توانند، جهت ثبت علامت تجارتی مراجعه و درخواست، ارایه نمایند.

دفتر ثبت مرکزی (بخش علایم تجارتی) ، مکلف است محتویات علایم تجارتی را درکتاب ثبت، درج و به درخواست دهنده رسید اعطاء یا ارسال نماید.

هرگاه درخواست جهت ثبت علامت تجارتی در کشور خارجی داده شده که بر مبنای شرایط متقابل با افغانستان دارای روابط باشد، درخواست دهنده یا ورثهٔ ذیحق وی می تواند در خلا ل مدت شش ماه بعد از تاریخ ارائه درخواست، درخواست مشابه را دررابطه به عین علامت تجارتی که مشمول عین اجناس، محصولات یا

عين اجناس، محصولات ياخدمتونه پکې شامل وي، ددې قانون او اړوندو لايحو د حکمونو له په پام کې نيولو سره په افغانستان کې دمرکزي ثبت دفتر (دسوداګريزو علامو د ثبت برخې) ته وړاندې کړي، پدې صورت کې لومړيتوب په بهرني هېوادکې دغوښتنليک دتسليمۍ له نېټې پربنسټ ټاکل کېږي.

## د غوښتنليک منل يا رد

**يوولسمه ماده :**

(۱) دمرکزي ثبت دفتر(دسوداګريزو علامو د ثبت برخه) مکلف دی غوښتنليکونه د ډول، ماهيت او ددې قانون له حکمونو سره د هغۀ د مطابقت له نظره وڅېړي او د ترلاسه کېدو له نېټې څخه د(۳۰) ورځو مودې په ترخ کې ، هغه قبول يا رد کړي.

د غوښتنليک د رد په صورت کې د مرکزي ثبت دفتر ( د سوداګريزو

خدمات مندرج درخواست قبلی باشد، بانظرداشت احکام این قانون و لوایح مربوط به دفتر ثبت مرکزی (بخش ثبت علایم تجارتی)، در افغانستان ارائه نماید، در این صورت اولویت بر اساس تاریخ تسلیمی درخواست در کشور خارجی تعیین می گردد.

## قبول یا رد درخواست

**مادۀ یازدهم:**

(۱) دفتر ثبت مرکزی (بخش ثبت علایم تجارتی) ، مکلف است درخواست ها را از نظر شکل ، ماهیت و مطابقت آنرا با احکام این قانون بررسی ودر خلا ل مدت ( ۳۰) روز از تاریخ دریافت، آنرا قبول یا رد نماید .

درصورت رد درخواست، دفتر ثبت مرکزی (بخش ثبت

علامو دثبت برخه) مکلف دی، دلایل یې صریحاً ذکرکړي، پدې صورت کې غوښتنلیک ورکوونکی کولی شي، دغوښتنلیک د رد له نېټې څخه د(۱۵) ورځو مودې په ترڅ کې ، دهغهٔ په اصلاح لاس پورې او بیایې دمرکزي ثبت دفتر (دسوداګریزو علامو دثبت برخې) ته تسلیم او یا دسیمې سوداګریزې محکمې ته مراجعه وکړي.

(۲) که چېرې غوښتنلیک ورکوونکی، دغوښتنلیک د رد په اړه، ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوې موده کې اقدام ونکړي یامحکمې ته مراجعه ونکړي ، پدې صورت کې داسې ګڼل کېږي چې هغه له خپل غوښتنلیک څخه منصرف شوی دی.

(۳) دمرکزي ثبت دفتر (د سوداګریزو علامو د ثبت برخه) مکلف دی په لاندې حالاتوکې هم

علایم تجارتی)، مکلف است دلایل آنرا صریحاً ذکر نماید، در این صورت درخواست دهنده می تواند، در خلال مدت(۱۵) روز از تاریخ رد درخواست به تصحیح آن مبادرت و مجدداً به دفتر ثبت مرکزی (بخش ثبت علایم تجارتی)، تسلیم ویا به محکمهٔ تجارتی محل مراجعه نماید.

(۲) هرگاه درخواست دهنده طی مدت مندرج فقرهٔ (۱) این ماده مبنی بر رد دلایل اقدام نه نماید یا به محکمه مراجعه نه کند، در این صورت چنین پنداشته می شود که وی از درخواست خویش منصرف گردیده است.

(۳) دفتر ثبت مرکزی (بخش ثبت علایم تجارتی)، مکلف است در حالات ذیل نیز درخواست

د ســـوداگريزو علامـــو د ثبـــت غوښتنليک رد کړي:

۱- په هغهٔ صـــورت کـــې چـــې سوداگريز علامت، ددې قانون پـــه نهمه ماده کې د درج شوي حکـــم مغاير وي.

۲- په هغهٔ صـــورت کـــې چـــې سوداگريزې علامې دمخـــه دبـــل شخص په نوم ثبت يا دمخه له يوې ثبت شوې سوداگريزې علامې سره ورته والی ولري.

## دثبت غوښتنليک

**دوولسمه ماده :**

لاندې مراتب دهرسوداگريزعلامت په ثبتولو کې حتمي دي:

۱- دثبت نېټه د(ورځې، مياشـــتې اوکال ) په شمول په تورو(حروفو) باندې .

۲- د ســـــوداگريز علامـــــت دغوښتنليک ورکوونکي نوم، شغل، د اوسېدو دځای آدرس او تابعيت ،

ثبـــت علايـــم تجـــارتی را رد نمايد:

۱- در صـــورتی کـــه علامـــت تجـــارتی مغـــاير حکـــم منـــدرج مـــادهٔ نهـــم ايـــن قـــانون باشد.

۲- در صـــورتی کـــه علايـــم تجارتی قبلاً به اسم شخص ديگری ثبت، يـــا بـــا يکـــی از علامـــات تجارتی ثبت شدهٔ قبلـــی شـــباهت داشته باشد.

## درخواست ثبت

**مادهٔ دوازدهم:**

مراتب ذيل درثبت هـــر علامـــت تجارتی حتمی است :

۱- تـــاريخ ثبـــت بـــه شـــمول (روز، مـــــاه و ســـــال) به حروف.

۲- اســـم، شـــغل، آدرس محـــل سکونت و تابعيـــت درخواســـت کننـــدهٔ علامـــت تجـــارتی،

په هغهٔ صورت کې چې د ثبت غوښتنلیک د هغهٔ د استازي یا قانوني وکیل له لارې صورت موندلی وي، عین معلومات د هغو په هکله هم حتمي دی.

۳- د اجناسو، محصولاتو یاخدمتونو کوم چې سوداګریز علامت دهغو لپاره استعمالېږي نوم اود ډول شرح.

۴- دهغونښانونو او کلیمو تصریح او دهغو د اجزاوو تعریف چې په سوداګریزو علاموکې استعمالېږي ، دموجودیت په صورت کې.

۵- د ورکړې وړتولو حق الثبتونو(فیس) ورکول.

## د بدلونونو ثبتول

**دیارلسمه ماده :**

(۱) که چېرې په سوداګریزو علامو یا په مالونو ، محصولاتو او خدمتونو کې چې دهغو دتشخیص په مقصد ثبت شوي بدلونونه راشي،

درصورتی که درخواست ثبت از طریق نمایندهٔ قانونی یا وکیل وی صورت گرفته باشد، عین معلومات در مورد آنها نیز حتمی می باشد.

۳- اسم وشرح نوع اجناس، محصولات و یا خدماتی که علامت تجارتی به مقصد آنها استعمال می گردد.

۴- تصریح نشانها وکلماتی که در علامت تجارتی استعمال می گردد وتعریف اجزای آن در صورت موجودیت.

۵- پرداخت کلیه حق الثبت (فیس) های قابل تأدیه.

## ثبت تغییرات

**مادهٔ سیزدهم:**

(۱) هرگاه در علایم تجارتی یادر اموال، محصولات یا خدمات که به مقصد تشخیص آنها ثبت گردیده تغییرات وارد گردد

ددې قانون دحکمونو له په پام کې نيولو سره په جلاتوګه دمرکــزي ثبت په دفتر (دسوداګريزو علامــو دثبت برخه) کې ثبتيږي. له هغـهٔ پرته د اعتبار وړ ندي.

(۲) دثبت شوي علامــت مالــک کولی شي، په خپل علامــت کــې بدلونونه کتباً وغواړي، پدې شرط چې په اساس کې پرثبــت شــوي علامت او هويت يې اغېزونکــړي همدارنګه کــولی شــي د هغــو مالونو، محصولاتو يــا خــدمتونو په حذفولو اقدام وکــړي چــې د سوداګريز علامت محتوي جــوړ وي.

(۳) په ثبت شوي علامت يــا پــه مالونو، محصولاتو يا خــدمتونوکې چې سوداګريز علامت ورپــورې مربوط دی، هر ډول نور بدلونونه دسوداګريزو علامو دثبت لپــاره، د نوي غوښتنليک پربنسټ صورت

با نظرداشت احکام اين قانون بطور جداگانه در دفتر ثبــت مرکــزی (بخش ثبت علايم تجارتی)، ثبــت می گردد. در غير آن مدار اعتبــار نمی باشد.

(۲) مالک علامــت ثبــت شــده می تواند، تغييرات را در علامــت خويش کتباً درخواســت نمايــد، مشروط براينکــه در اســاس بــه علامت ثبت شده وهويت آن تاثير وارد نه نمايد. همچنان می تواند به حذف امــوال، محــصولات يــا خدمات اقدام نمايد که محتــوای علامــت تجــارتی را تــشکيل می دهد.

(۳) هرگونــه تغييــرات ديگــر درعلامت ثبت شده يا دراموالــل ، محصولات يا خدمات که علامت تجارتی به آن مربوط مــی باشــد، به اساس درخواست جديد بــرای ثبت علايــم تجــارتی صــورت

مومي.

**دثبت شوي سوداگريز علامت په چاپ کې داشتباه (تېروتنې) تصحيح**

**څوارلسمه ماده :**

که چېرې سوداګريز علامت په يوهٔ قاموس، دايرة المعارف يا هغو ته په ورته کې د دې له اعلام پرته چې په ثبت رسېدلی دی، بيا چـاپ او ددې احتمال موجـود وي چـې نومـوړی علامـت د اجناسـو، محصولاتويا هغو خدمتونو عام نوم وي چې سوداګريز علامـت يـې په مقصد ثبت شـوی دی، پـدې صورت کې خپروونکـی (ناشـر) مکلف دی، دمالک د غوښتنې لــه مخې په ورروستي چاپ کې د دغه ډول تېروتنې په سمولو (تـصحيح) لاس پورې کړي.

می گيرد.

**تـــصحيح اشـــتباه درچـــاپ علامت تجارتی ثبت شده**

**مادهٔ چهاردهم:**

هرگـــاه علامـــت تجـــارتی در يـــک واژه نامـــه، دايـــرة المعـــارف يـــا امثـــا ل آن بـــدون اعـــلام اينکـــه بـــه ثبـــت رســـيده اســـت مجدداً چـــاپ و احتمـــا ل آن موجـــود باشـــد کـــه علامـــت مـــذکور اســـم عـــام اجنـــاس، محصولات يـــا خـــدماتی باشـــد که علامت تجارتی به مقـــصد آن ثبت گرديده است، در اين صورت ناشر مکلف است بالاثر تقاضـــای مالک، درچاپ بعدی به تـــصحيح چنين اشتباه اقدام نمايد.

**دوکیل په نوم دعلامت نه ثبتېدل**

**پنځلسمه ماده :**

د سوداګریز علامت دمالک استازی یا وکیل نشي کولی دمالک له موافقې پرته سوداګریز علامت په خپل نوم ثبت کړي.

**دسوداګریزعلامت دمالک له نوم او آدرس څخه استفاده**

**شپاړسمه ماده :**

دسوداګریزعلامت مالک کولی شي، دسوداګرۍ په موده کې له خپل نوم یا آدرس او داجناسو یا دخدمتونو دسرته رسولو یا د اجناسو، محصولاتو یا خدمتونو په ډول، کیفیت، پام وړ موخې، ارزښت، جغرافیایي منشاء، دتولید په وخت پورې له اړوندو نغوتو(اشارو) او قراینو یا نورو خصوصیاتو څخه دحکمي یا حقیقي

**عدم ثبت علامت بنام وکیل**

**مادهٔ پانزدهم:**

وکیل یا نمایندهٔ مالک علامت تجارتی نه می تواند، علامت تجارتی را بدون موافقهٔ مالک به اسم خود ثبت نماید.

**استفاده از اسم و آدرس مالک علامت تجارتی**

**مادهٔ شانزدهم:**

مالک علامت تجارتی می تواند، دردوران تجارت سایر اشخاص حقیقی یا حکمی را از استفادهٔ اسم یا آدرس خویش و اشارات و قراین مربوط به نوعیت، کیفیت، کمیت، هدف مورد نظر، ارزش، منشاء جغرافیایی، زمان تولید اجناس یا انجام خدمات یا سایر خصوصیات اجناس، محصولات یا

اشخاصو د استفادې مانع شي، خوداچې استعمال يې په صنعتي او سوداګريزو مسئلو کې له مشروع تګلارې (روش) سره مطابقت ولري او په هکله يې د مالک اجازه اخيستل شوې وي.

## د سوداګريزعلامت لېږدېدل

اوولسمه ماده :

سوداګريز علامت دلېږد وړ دی او په هغهٔ صورت کې د اعتبار وړ ګڼل کېږي چې پدې قانون او دمرکزي ثبت په دفتر(دسوداګريزو علامو دثبت برخه) کې په اړوندو لايحو کې د درج شوو حکمونو مطابق، په جلا ډول ثبت شوی وي.

## دثبت شوي سوداګريزعلامت خپرېدل

اتلسمه ماده :

(۱) دسوداګريز علامت مالک مکلف دی، ثبت شوی

خدمات مانع گردد، مگر اینکه استعمال آن با روش مشروع در مسایل صنعتی و تجارتی مطابقت داشته و اجازهٔ مالک در مورد اخذ شده باشد.

## انتقال علامت تجارتی

مادهٔ هفدهم:

علامت تجارتی قابل انتقال بوده و در صورتی مدار اعتبار پنداشته می شود که مطابق احکام مندرج این قانون و لوایح مربوط در دفتر ثبت مرکزی (بخش ثبت علایم تجارتی)، طور جداگانه به ثبت رسیده باشد.

## نشر علامت تجارتی ثبت شده

مادهٔ هجدهم:

(۱) مالک علامت تجارتی مکلف است، علامت تجارتی

سوداګریزعلامت او په هغهٔ کې راوستل شوي بدلونونه، دهغهٔ دثبت له نېټې څخه د (۱۵) ورځو مودې په ترڅ کې په شخصي لګښت په رسمي جريده کې دخپرېدو لپاره وړاندې او هم کولی شي هغه په نورو ټولیزو رسنیو کې خپور کړي.

(۲) هغه ثبت شوی سوداګریز علامت چې دنشر لپاره رسمي جریدې ته استول کېږي، د لاندې مطالبو لرونکی وي:

۱- دسوداګریز علامت دثبت نېټه.

۲- د سوداګریز علامت ښودن(نمایش).

۳- دغوښتنلیک نېټه.

۴- په سوداګریزعلامت پورې د اړوندو مالونو ، محصولاتو یا خدمتونو لست.

۵- دمالونو ، محصولاتو او خدمتونو طبقه بندي.

ثبت شده و تغییرات وارده در آن را در خلال مدت (۱۵) روز از تاریخ ثبت آن به مصرف شخصی جهت نشر در جریدهٔ رسمی ارائه و نیز می تواند آنرا در سایر رسانه های همگانی نشر نماید.

(۲)علامت تجارتی ثبت شده که غرض نشر درجریدهٔ رسمی ارسال می گردد، حاوی مطالب ذیل می باشد:

۱- تاریخ ثبت علامت تجارتی.

۲- نمایش علامت تجارتی.

۳- تاریخ درخواست.

۴- لست اموال، محصولات یا خدمات مربوط به علامت تجارتی.

۵- طبقه بندی اموال، محصولات و خدمات.

٦- دسوداګریزعلامت دمالک نوم او تابعیت او د وکیلانو نومونه (دشتون په صورت کې).

۷- شغل.

۸-دسوداګریزعلامت دمالک د سندونودثبت د دفترهېواد او آدرس.

۹- په سوداګریز علامت پورې اړوند بدلونونه او دغوښتنلیک ورکوونکي لخوا غوښتل شوي حقوق.

۱۰- نورهغه موارد چې پدې قانون کې اټکل شوي وي.

(۳) دمرکزي ثبت دفتر(دسوداګریزو علامو دثبت برخه ) کولی شي، دغوښتنې په وخت کې دثبت شوو سوداګریزو علامو دفهرست نقل، دټاکلي فیس د ورکولو په وړاندې، دغوښتونکو په واک کې ورکړي.

٦- اسم و تابعیت مالک علامت تجارتی و اسم وکلا (درصورت موجودیت).

۷- شغل.

۸- کشور و آدرس دفتر ثبت اسناد مالک علامت تجارتی.

۹- تغییرات مربوط به علامت تجارتی و حقوق تقاضا شده ، از طرف درخواست دهنده.

۱۰- سایر مواردیکه در این قانون پیشبینی شده باشد.

(۳) دفتر ثبت مرکزی (بخش ثبت علایم تجارتی)، می تواند، حین تقاضا نقل فهرست علایم تجارتی ثبت شده را درمقابل پرداخت فیس معین بدسترس متقاضیان قرار دهد.

## دعلامت ملاتړ

**نولسمه ماده :**

سوداګریز علامت، دمرکزي ثبت دفتر (دسوداګریزو علامو دثبت برخه) ته د غوښتنلیک د وړاندې کولو له نېټې څخه ،ترملاتړ لاندې نیول کېږي.

## دسوداګریز علامت دثبت د اعتبارموده

**شلمه ماده :**

(۱) دسوداګریزعلامت دثبت د اعتبار موده لس کاله ده، دغه موده د مالک دغوښتنې له مخې د نورو پرله پسې لس کلنو دورو لپاره نوې کېدی شي.

(۲) د سوداګریز علامت مالک مکلف دی، ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې مودې له تېرېدو دمخه د شپږو میاشتو مودې په ترڅ کې، د نوي کولو غوښتنلیک

## حمایت علامت

**مادۀ نزدهم:**

علامت تجارتی از تاریخ ارائۀ درخواست به دفتر ثبت مرکزی (بخش ثبت علایم تجارتی)، مورد حمایت قرار می گیرد.

## مدت اعتبارثبت علامت تجارتی

**مادۀ بیستم:**

(۱) مدت اعتبار ثبت علامت تجارتی ده سال می باشد، این مدت بالاثر تقاضای مالک برای دوره های ده ساله متوالی دیگر تجدید شده می تواند.

(۲) مالک علامت تجارتی مکلف است، در خلا ل مدت شش ماه قبل از انقضای مدت مندرج فقرۀ (۱) این ماده درخواست تجدید را به دفتر

دمركزي ثبت دفتر (دسوداګريزو علامو دثبت برخه) ته وړاندې كړي.

(۳) د سوداګريز علامت مالک نشي كولی په ثبت شوي سوداګريز علامت يا د اجناسو، مالونو، محصولاتو ياهغو خدمتونو په لست كې چې سوداګريز علامت پدې منظور، دمخه ثبت شوی ، د نوې كتنې په وخت كې بدلونونه راولي.

## دسوداګريز علامت مالكيت

يوويشتمه ماده :

دسوداګريز علامت مالكيت په هغهٔ شخص پورې اړه پيداكوي چې لومړی ځل يې هغه استعمال كړی وي، خوداچې په محكمه كې يې خلاف ثابت شي.

ثبت مركزی (بخش ثبت علايم تجارتی)، ارائه نمايد.

(۳) مالک علامت تجارتی نه می تواند حين تجديد در علامت تجارتی ثبت شده يا لست اجناس، اموال، محصولات يا خدماتی كه علامت تجارتی بدين منظور قبلاً ثبت گرديده ، تغييرات وارد نمايد.

## مالكيت علامت تجارتی

مادهٔ بيست ويكم:

مالكيت علامت تجارتی به شخصی تعلق می گيرد كه اولين بار آنرا استعمال نموده باشد، مگر اينكه در محكمه خلاف آن ثابت شود .

**دسوداګریزعلامت ختم**

**دوه ویشتمه ماده :**

دسوداګریزعلامت دمالکیت حق ، په لاندو حالاتو کې ختمېږي:

۱- له سوداګرۍ، صنعت، کرنې یا هغو خدمتونو څخه انصراف چې دخاصو سوداګریزو علامو په مالکیت پورې مربوط وي،.

۲- د قانون د حکمونو مطابق ، په بل شخص د مالکیت د حق پلورل یاهرډول لېږدېدل.

۳- ددې قانون د شلمې مادې په (۲) فقره کې د درج شوي حکم مطابق دشپږومیاشتو مودې په ترځ کې، دسوداګریزعلامت دثبت دحق دنوې کېدو، د غوښتنلیک نه وړاندې کول.

۴- که چېرې ثابته شي چې سوداګریزعلامت د دریو پرله پسې کلونو لپاره استعمال شوی نه دی، اړونده سوداګریزه محکمه د ذینفع

**ختم مالکیت علامت تجارتی**

**مادۀ بیست ودوم:**

حق مالکیت علامت تجارتی در حالات ذیل خاتمه می یابد:

۱- انصراف از تجارت، صنعت، زراعت یا خدماتی که به مالکیت علایم تجارتی، خاص مربوط باشد.

۲- فروش یا هرنوع انتقال حق مالکیت به شخص دیگر، طبق احکام قانون .

۳- عدم ارایۀ درخواست تجدید ثبت حق علامت تجارتی در خلال مدت شش ماه مطابق حکم مندرج فقرۀ (۲) مادۀ بیستم این قانون .

۴- هر گاه ثابت گردد علامت تجارتی برای مدت سه سال متوالی استعمال نگردیده است ، محکمۀ تجارتی مربوط

شخص چې علامت یې په نوم ثبت شوی دی دغوښتنې پربنسټ، کولی شي حکم صادرکړي، خوداچې دسوداګریز علامت مالک (لومړی شخص)، په یاده شوې موده کې له هغهٔ څخه دنه ګټې اخیستنې په اړه مؤجه دلایل، وړاندې کړي پدې صورت کې، ددې قانون په دوولسمه ماده کې د درج شوي حکم له په پام کې نیولو سره ثبتیږي.

۵- د ملکیت د حق د باطیلېدو په اړه د واکمنې محکمې د حکم صادریدل.

**<u>په مشهوره جغرافیایي ساحه کې تولید یا عرضه</u>**

**دوویشتمه ماده:**

(۱) که چېرې د یوې مشهورې جغرافیایي ساحې نوم په سوداګریزعلامت کې دشامل جزء په توګه ثبت شوی وي، مالک یې

به اساس تقاضای شخص ذینفع که علامت بنام وی ثبت گردیده، می تواند اصدار حکم نماید، مگر اینکه مالک علامت تجارتی ( شخص اول ) دلایل موجهٔ رامبنی برعدم استفاده از آن را طی مدت مذکورارائه نماید. در اینصورت با رعایت احکام مندرج مادهٔ دوازدهم این قانون ثبت گردد.

۵- صدور حکم محکمهٔ ذیصلاح راجع به ابطا ل حق ملکیت.

**<u>تولید یا عرضه در ساحهٔ جغرافیایی مشهور</u>**

**مادهٔ بیست و سوم:**

(۱) هرگاه نام یک ساحهٔ مشهور جغرافیایی بحیث جزء مشمول علامت تجارتی ثبت شده باشد، مالک آن مکلف

مکلف دی ، داجناسو او محصولاتو تولید یا دخدمتونو وړاندې کول، په هماغې جغرافیایي ساحې کې سرته ورسوي.

(۲) حقیقي یا حکمي اشخاص نشي کولی، د خلکو د تېرایستو(اغفا ل) لپاره، له بېلا بېلو وسایلو څخه په استفادې سره جنس، محصول یا خدمت داسې معرفی یا قلمداد کړي چې د اړوندې جغرافیایي ساحې د رېښتینې نښې پرخلاف وي.

(۳)هغه حقیقي یاحکمي اشخاص چې پداسې جغرافیایي ساحه کې دجنس یا محصول په تولید یا دخدمتونو په وړاندې کولو لاس پورې کوي چې خاص شهرت لري،نشي کولی جغرافیایي نښه چې د ورته اجناسو، محصولاتو یا خدمتونو په هکله په نورو ساحوکې تولید یا وړاندې کېږي،په داسې ډول استعمال کړي چې داسې وګڼل شي د نومړو

است، تولید اجناس و محصولات یا عرضۀ خدمات را در همان ساحۀ جغرافیایی انجام دهد.

(۲) اشخاص حقیقی یا حکمی نمی توانند، بخاطر اغفال مردم با استفاده از وسایل مختلف جنس، محصول یا خدمت را طور معرفی یا قلمداد نماید که بر خلاف نشانۀ واقعی ساحۀ جغرافیایی مربوط باشد.

(۳) اشخاص حقیقی یاحکمی که به تولید جنس یا محصول یا عرضۀ خدمات در ساحۀ جغرافیایی می پردازند، که دارای شهرت خاص می باشد نمی توانند نشان جغرافیایی را در مورد اجناس، محصولات یا خدمات مشابهی که در سایر ساحات تولید یا عرضه می گردند، بگونۀ استعمال نماید تا چنان پنداشته

اجناسو، محصولاتو تولید یا د خدمتونو وړاندې کېدل په هماغې مشهورې ساحې کې صورت موندلی دی.

**له مشهوررونومونو څخه استفاده**

**څلېریشتمه ماده:**

حقیقي یا حکمي اشخاص کولی شي هغه مشهوره جغرافیایي علامې یا نومونه چې د سوداګرۍ په اصطلاح کې دجنس، تولیدیا اړوند خدمت د نومونې په منظور تر ګټې اخیستنې لاندې نیول کېږي، استعمال کړي، خو دا چې دغه ډول عامې جغرافیایي علامې، ددې قانون په یودېرشمه ماده کې د درج شوي حکم مطابق ، تېرایستونکې وي.

## دریيم فصل

## اعتراضونه

**د اعتراض حق**

**پنځه ویشتمه ماده:**

لاندې اشخاص د سوداګریزو

شود که تولید جنس یا محصول یا عرضهٔ خدمت مذکور در همان ساحهٔ مشهور صورت گرفته است.

**استفاده از نام های مشهور**

**مادهٔ بیست وچهارم:**

اشخاص حقیقی یا حکمی می توانند علایم و نام های مشهور جغرافیایی را که دراصطلاح تجارت به منظور نام گذاری جنس، تولید یا خدمت مربوط مورد استفاده قرار می گیرد، استعمال نمایند، مگر اینکه چنین علایم جغرافیایی عام طبق حکم مندرج مادهٔ سی و یکم این قانون، اغفا ل کننده باشد.

## فصل سوم

## اعتراضات

**حق اعتراض**

**مادهٔ بیست و پنجم:**

اشخاص آتی دربارهٔ علامت تجارتی

علامو په اړه، چې په هکله ئې خپله د ثبت غوښتنه وړاندې کړې او يا يې هم ثبت کړې وي، اعتراض کولای شي:

۱- هغه شخص چې مدعي وي هغه علامه يې خپله سوداگريزه علامه ده.

۲- هغه شخص چې علامه د هغهٔ سوداگريزې علامې ته دومره ورته چې استهلا کوونکي په اشتباه کې واچوي.

## د اعتراض ډول

**شپږويشتمه ماده:**

(۱) ذينفع اشخاص يا د هغوی قانوني استازي کولی شي، د سوداگريز علامت دثبت په هکله، په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه وروسته د(۳۰) ورځو مودې په ترڅ کې خپل اعتراض په ليکلې توگه يا د راجستري پست له لارې، د مرکزې ثبت دفتر

که راجع به آن درخواست ثبت به عمل آمده و يا به ثبت رسيده باشد اعتراض کرده می توانند:

۱- شخصی که مدعی باشد آن علامت، علامت تجارتی خودش می باشد.

۲- شخصی که، علامت به علامت تجارتی اش به اندازه شبيه باشد که مستهلکين را به اشتباه بی اندازد.

## طرز اعتراض

**مادۀ بيست و ششم:**

(۱) اشخاص ذينفع يا نمايندگان قانونی آنها می توانند، در مورد ثبت علامت تجارتی در خلا ل مدت (۳۰) روز بعد از نشر در جريدۀ رسمی اعتراض خويشرا طور کتبی يا از طريق پست راجستری به دفتر ثبت مرکزی

(د سوداګريزو علامو دثبت برخې) ته وړاندې کړي.

(۲) د مرکــــزي ثبـــت دفتـــر(د سوداګريزو علامو د ثبت برخـــه) مکلف دی، داعتراض د ترلاســه کولو له نېټې څخه د(۱۵) ورځـــو مودې په ترڅ کې، د هغــهٔ نقـــل دسوداګريزعلامت دثبت غوښـــتنليک ورکوونکي ته چې پرضدیې اعتــراض شوی دی، وړاندې کړي.

(۳) که چېرې دثبت غوښـــتنليک ورکوونکی، هغهٔ ته دمرکزي ثبت د دفتر ( د سوداګريزو علامو دثبت برخې) لخوا د اعتراض دخبرتیا له استولوڅخه وروسته د (۳۰) ورځو مودې پـــه تـــرڅ کې،لـــه خپـــل غوښتنليک څخـــه صـــرف نظـــر ونکړي، اعتراض کوونکی شخص کولی شي، د(٦۰) ورځو مودې په ترڅ کې اړونـــدې ســـوداګريزې محکمې ته شکايت وکـــړي. ددې

(بخش ثبــت علايـــم تجـــارتی)، ارايه نمايد.

(۲) دفتر ثبت مرکـــزی (بخـــش ثبت علايم تجارتی)، مکلف است، در خــــلا ل مــــدت (۱۵) روز از تاريخ دريافت اعتــراض، نقـــل آنرا به درخواست دهنـــدهٔ ثبـــت علامـــت تجـــارتی کـــه عليـــه او اعتـــراض صـــورت گرفتـــه، ارائه نمايد.

(۳) هرگاه درخواســـت دهنـــدهٔ ثبت در خلال مـــدت (۳۰) روز بعد از ارسال اطلاعيـــهٔ اعتـــراض از طرف دفتر ثبت مرکزی (بخش ثبت علايـــم تجـــارتی)، بـــه وی از درخواســـت خـــود انـــصراف نـــه ورزد، شـــخص اعتـــراض کننـــده مـــی توانـــد در خلاـــل مـــدت (٦۰) روز بـــه محکمـــهٔ تجـــــــــارتی مربــــــــوط شکايت نمايـــد. درخـــلا ل ايـــن

مودې په ترڅ کې دثبت بهیر(پروسه) ځنډیږي.

(۴) که چېرې اعتراض کوونکی شخص ونکړای شي،ددې مادې په (۳) فقره کې د درج شوې مودې په ترڅ کې محکمې ته مراجعه وکړي یا له هغې وروسته خپل شکایت تعقیب نکړي، پدې صورت کې سوداګریزعلامت دهغهٔ شخص په نوم چې دثبت غوښتنه یې کړې ده، ثبت او اعتراض کوونکی شخص دهېڅ ډول ورکړل شوي حق الثبت (فیس) دبېرته ورکړې مستحق ندی.

## د سوداګریز علامت د لېږد یا بدلون په اړه د اعتراض ډول

**اووه ویشتمه ماده:**

که اعتراض د علامت د لېږد د ثبت یا د علامت د بدلون د ثبت او یا د هغو محصولاتو او تولیداتو د بدلون د ثبت په اړه وي چې هغه علامت د

مدت جریان (پروسه) ثبت تعلیق می گردد.

(۴) هرگاه شخص اعتراض کننده نتواند در خلال مدت مندرج فقرهٔ (۳) این ماده به محکمه مراجعه نماید، یا بعد از آن شکایت خود را تعقیب نه نماید، در این صورت علامت تجارتی به نام شخصی که درخواست ثبت را نموده است، ثبت و شخص اعتراض کننده مستحق باز پرداخت هیچ نوع حق الثبت (فیس)تأدیه شده نمی باشد.

## طرز اعتراض درمورد انتقال یا تغییر علامت تجارتی

**مادهٔ بیست وهفتم:**

اگر اعتراض راجع به ثبت انتقال علامت یا ثبت تغییر علامت و یا دربارهٔ ثبت تغییرمحصولات و تولیداتی باشد که آن علامت

هغوی د تشخیصېدو اوتثبیتېدو لپاره ټاکل شوی وي، په اعتراضونو پورې د اړوندو موادو حکمونه پدې هکله تطبیقېږي.

## د محکمې تصمیم

اته ویشتمه ماده:

(۱) اړونده سوداګریزه محکمه دشخړې داړخونو دغوښتنلیک دڅېړنې په وخت کې،دثبت دتأیید یا رد په هکله د وړاندو شوو دلایلو له په پام کې نیولو سره،تصمیم نیسي.

(۲) د محکمې قطعي حکم د محکوم له په لګښت په یوه رسمي ورځپاڼه کې خپرېږي. محکوم له کولی شي، یا د شوي مخارج د خساراتو په جمله کې، له محکوم علیه څخه وغواړي.

برای تثبیت و تشخیص آنها تعین شده است، احکام مواد مربوط به اعتراضات درمورد تطبیق می گردد.

## تصمیم محکمه

مادۀ بیست و هشتم:

(۱) محکمۀ تجارتی مربوط حین رسیدگی به درخواست طرفین منازعه با نظرداشت دلایل ارائه شده در مورد تأیید یا رد ثبت، تصمیم اتخاذ می نماید.

(۲) حکم قطعی محکمه به مصرف محکوم لهُ در یکی از روزنامه های رسمی نشر می شود. محکوم له می تواند مخارج مذکور را در جملۀ خسارات از محکوم علیه مطالبه نماید.

**د سوداګريزعلامت استعمال**

**نهه ويشتمه ماده:**

که چیرې اعتراض کوونکی شخص ثابته کړي چې داعتراض وړ سوداګريز علامت په مستمره توګه د هغهٔ لخوا استعمال شوی دی، پدې صورت کې اړونده سوداګريزه محکمه دهغهٔ په نوم د سوداګريز علامت دثبت حکم صادر وي، که چیرې سوداګريز علامت، د ثبت دغوښتنليک ورکوونکي په نوم دمخه ثبت شوی وي، دهغه دثبت نوم حذف او سوداګريزه محکمه د اعتراض کوونکي په نوم د سوداګريز علامت په ثبت حکم صادر وي.

**استعمال علامت تجارتی**

**مادهٔ بیست و نهم:**

هرگاه شخص اعتراض دهنده، ثابت نماید،که علامت تجارتی مورد اعتراض بطور مستمر از طرف وی استعمال گردیده است، دراین صورت محکمهٔ تجارتی مربوط به ثبت علامت تجارتی به اسم وی حکم صادر می نماید. هرگاه علامت تجارتی، قبلاً به اسم درخواست دهندهٔ ثبت، به ثبت رسیده باشد، اسم ثبت آن حذف و محکمهٔ تجارتی به ثبت علامت تجارتی به اسم شخص اعتراض دهنده، حکم صادر می نماید.

**د دعــوي دوخــت دتېرېــدو (مرورزمان) موده**

**دېرشمه ماده:**

د سوداګریزعلامت په ثبت پورې د اړوندې دعوي د اورېدو یا څېړنې لپاره د وخت تېرېدل یوکا ل دی، هغـــه اشـــخاص چـــې د سوداګریزعلامت دثبت لــه نېټــې څخه د یادې شوې مودې په تــرڅ کې دهغهٔ په هکله اعتراض ونکړي، دعوي یې د اورېدو وړ نده.

## څلورم فصل

### مجازات

**سرغړونې**

**یو دېرشمه ماده :**

(۱) شخص د لاندې مواردو له یوهٔ څخه د سرغړونې په صورت کې، له احوالو سره سم د رسېدلي زیان په تناسب، د هغهٔ پــه جبرانولــو محکومېږي:

**مــــدت مــــرور زمــــان دعوی**

**مادهٔ سی ام:**

مرور زمان بــرای اســتماع یــا رسیدگی دعوی مربوط بــه ثبــت علامت تجارتی یک سال می باشد، اشخاص که درخلا ل مدت مذکور از تاریخ ثبت علامــت تجــارتی درمــورد آن اعــتراض نه نمایند، دعــوی شــان قابــل ســمع نمی باشد.

## فصل چهارم

### مجازات

**تخلفات**

**مادهٔ سی و یکم :**

(۱) شخص در صــورت تخلــف یکی از مــوارد ذیــل ،حــسب احوال بــه تناســب ضــرر وارده بــه جبـــران آن محکـــوم می گردد:

۱- د سوداګریز علامت تزویر یا تقلب چې دمخه د دې قانون دحکمونو مطابق ، دمرکزي ثبت په دفتر(دسوداګریزو علامو دثبت برخه) کې ثبت شوی وي یا هغه داسې استعمال کړي چې دخلکو د اغفال موجب شي.

۲- دجعلي یا تقلید شوي علامت قصدي استعمال.

۳- د مالک له اجازې پرته په خپلو سوداګریزو تولیداتو کې د درېیم شخص د سوداګریزعلامت نصبول.

۴- د جعلي، تقلیدي علامت لرونکو یا غیرمجازو اجناسو، محصولاتو یا خدمتونو عمدي پلورل ، پلورنې ته وړاندې کول، رواجول یا په واک کې لرل.

۵- ددې قانون په اتمه ماده کې د درج شوي علامت استعمالول.

٦- په اجناسو، محصولاتو یا خدمتونوکې دمډالونو، دیپلومونو،

۱-تزویر یا تقلب علامت تجارتی که قبلاً طبق احکام این قانون در دفتر ثبت مرکزی (بخش ثبت علایم تجارتی)، به ثبت رسیده یا آنرا طوری استعمال نماید که موجب اغفال مردم گردد.

۲- استعمال قصدی علامت جعلی یا تقلید شده.

۳- نصب علامت تجارتی شخص ثالث، بدون اجازهٔ مالک در تولیدات تجارتی خود.

۴- فروش عمدی، عرضه به فروش، ترویج یا در تصرف داشتن اجناس، محصولات یا خدمات دارای علامت جعلی، تقلیدی یا غیر مجاز.

۵- استعمال علامت مندرج مادهٔ هشتم این قانون .

٦- ذکر مدال ها، دیپلوم ها ، جوایز یا رتب افتخاری دراجناس ،

جايزو يا افتخاري (وياړمنو) القابو كوم چې په هغو پورې اړه نلري يا دهغو سوداگريزو بنسټونو يا نومونو په هكله چې اصلاً يې ترلاسه كړې نه وي، ذكركول.

۷- دننداري وړ اجناسو او محصولاتو يا ګډو خدمتونو ته له اختصاص شوو امتيازونو څخه استفاده، خوداچې د نومړو امتيازونو سرچينه او ماهيت په څرګنده توګه بيان شوي وي.

۸- دجنس، محصول، يا خدمت پرمخ دجنس، محصول يا ټاكلي خدمت په توليد كې د يوې ځانګړې شهرت لرونكې جغرافيايي ساحې دنښانونو استعمالول، پداسې ډول چې دغه اجناس، محصولات يا خدمتونه د توليد په هغې ساحې كې رامنځته شويدي، د خلكو د اغفال سبب شي.

محصولات يا خدمات كه به آنها متعلق نباشد، يا درمورد نهاد يا اسامى تجارتى كه اصلاً كسب نكرده باشد .

۷- استفاده از امتيازات اختصاص يافته به اجناس و محصولات داراى نمايش يا خدمات مشترك ، مگر اينكه منبع و ماهيت امتيازات متذكره، طور واضح بيان شده باشد.

۸- استعمال نشان هاى جغرافيايى يک ساحۀ داراى شهرت خاص در توليد جنس، محصول يا خدمت معين روى جنس، به نحوى كه اين اجناس، محصولات ياخدمات درآن ساحه توليد ، ايجاد گرديده است، سبب اغفا ل مردم گردد.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې سرغړونې دتکرار په صورت کې، مرتکب د رسېدلي زيان په دوه چنده جبران او هغه حبس چې له شپږومياشتو څخه لږ او له يوۀ کال څخه زيات نه وي، محکومېږي.

## د زيان دجبران غوښتنه

**دوه دېرشمه ماده :**

زيانمن شوی شخص کولی شي په اړوند سوداګريز علامت کې دتزوير په صورت کې، دهغۀ د استعمال منع کېدل وغواړي او له فاعل څخه د زيان دجبران غوښتنه وکړي.

## د اجناسو مصادره کول او دفعاليت دځای بندول

**دري دېرشمه ماده :**

واکمنه محکمه ،پدې فصل کې د درج شوو مجازاتو پرمحکوميت

(۲) درصورت تکرار تخلف مندرج فقرۀ (۱) این ماده مرتکب به جبران دو چند ضرر وارده و یا حبسی که از شش ماه کمتر و از یک سال بیشتر نباشد، محکوم می گردد.

## مطالبۀ جبران خساره

**مادۀ سی ودوم:**

شخص متضرر می تواند در صورت تزویر در علامت تجارتی مربوط، منع استعمال آنرا درخواست و جبران خساره را از فاعل مطالبه نماید.

## مصادرۀ اجناس ومسدود نمودن محل فعالیت

**مادۀ سی وسوم:**

محکمۀ ذیصلاح، علاوه برمحکومیت به مجازات

برسېره، داحوالو مطابق د هغو اجناسو او محصولاتو چې د جرم موضوع ګرځېدلي د هغو مبالغو چې د جرم له ارتکاب څخه لاسته راغلي، د هغو وسايلو چې د جرم په ارتکاب کې تر استعمال لاندې نيول شوي پرمصادرې او ترشپږومياشتو مودې پورې دفعاليت دځاى پربندېدو او د تکرار په صورت کې يې، دفعاليت پردايمي بندولو باندې حکم کوي.

## پنځم فصل
## متفرقه حکمونه

**حق الثبت**

**ځلور دېرشمه ماده:**

(۱) مالک مکلف دی د غوښتنليک او سوداګريز علامت د ثبت په بدل کې دحق الثبت په نوم څه پيسې ورکړي چې اندازه يې د وزيرانو د شوري لخوا ټاکل کېږي.

مندرج اين فصل حسب احوال به مصادرهٔ اجناس ومحصولاتی که موضوع جرم را تشکيل داده مبالغی که از اثر ارتکاب جرم بدست آمده و وسايلی که در ارتکاب جرم مورد استعمال قرار گرفته و به مسدود نمودن محل فعاليت برای مدت الی ششماه و درصورت تکرار آن به قطع دايمی فعاليت حکم می نمايد.

## فصل پنجم
## احکام متفرقه

**حق الثبت**

**مادۀ سی وچهارم:**

(۱) مالک مکلف است دربدل درخواست نامه و ثبت علامت تجارتی مبالغی را بنام حق الثبت تأديه نمايد که اندازهٔ آن از طرف شورای وزيران تعيين می گردد.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي مبالغ د دولت د وارداتو په حساب، بانک ته تحویلیږي.

## دمقررو وضع کېدل

**پنځه دېرشمه ماده :**

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت کولی شي، ددې قانون د حکمونو دښه تطبیق په منظور،مقررې له پړاوونو څخه تېرې، لایحې او کړنلارې وضع کړي.

## د انفاذ نېټه

**شپږ دېرشمه ماده:**

دغه قانون له توشېح وروسته نافذ او په رسمي جریده کې خپرېږي او په انفاذ سره یې د ۱۳۳۹ کال د رسمي جریدې په (۱۰۰) ګڼه کې خپره شوې د تجارتی علامو اصولنامه ملغی شمېرل کېږي.

(۲) مبالغ مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به حساب واردات دولت تحویل بانک می گردد.

## وضع مقرره ها

**مادهٔ سی و پنجم:**

وزارت تجارت و صنایع می تواند، به منظور تطبیق بهتر احکام این قانون، مقرره ها را طی مراحل، لوایح و طرزالعمل ها را وضع نماید .

## تاریخ انفاذ

**مادهٔ سی و ششم:**

این قانون بعد از توشیح نافذ و در جریدهٔ رسمی نشر می گردد و با انفاذ آن اصولنامهٔ علایم تجارتی منتشرهٔ جریدهٔ رسمی شماره(۱۰۰) سال ۱۳۳۹ ملغی شمرده می شود.

# اشتراک سالانه:

در مرکـــــز و ولایـــــات :            (۹۰۰) افغـــــانی

بـــرای مـــامورین دولـــت: بـــا ۲۵ فیصـــد تخفیـــف

برای متعلمین و محصلین با ارائه تصـــدیق، نصـــف قیمـــت

برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی جلد

خـــارج از کشـــور:            (۲۰۰) دالـــر امریکـــائی

ISLAMICREPUBLIC
OF
AFGHANISTAN
MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

Extraordinary Issue

## Law On Trade Marks Registration

**Date:1th SEPTEMBER .2009**
**ISSUE NO :(995)**